# د لـوړو زده کـړو اونیزه

# هفته نامه تحصیلات عالی

(۲۴۶) گڼه - ۱۰ کال - زمری - ۱۴۰۲ هـ.ل


## اسلامي ثقافت استادانو، امامانو او مبلغینو لپاره درې ورځنی دیني – علمي سیمینار جوړ شو

په کابل پوهنتون کې د امارتي پوهنتونونو د اسلامي ثقافت استادانو، د دعوت او ارشاد امامانو او مبلغینو لپاره درې ورځنی دیني – علمي سیمینار د ا.ا.ا د مشرانو او مسؤلینو په ګډون سره پیل شو.

د یاد سیمینار په افتتاحیه مراسمو کې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د لوړو زده کړو وزارت دغه نوښت وستایه او ویې ویل، چې د تېر اشغال پر وړاندې په مبارزه کې د پوهنتون استادانو او محصلینو هم ونډه درلوده او نن ورځ په نظام کې د هېواد د ودانولو لپاره هم له موږ سره یو ځای دي.

هغه زیاته کړه چې موږ د محصلینو داسې روزنه غواړو چې د انجنیري، طب او نورو مسلکونو تر څنګ، د اسلام په اساساتو او فرائضو هم پوه شي او پر ځان یې عملي کړي.

همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب وویل چې د ا.ا.ا مشرانو د عصري زده کړو د لا پیاوړتیا په پار، په پوهنتونونو کې د اسلامي ثقافت د مضمون کرېډېټونه زیات کړل او د همدې مضمون د استادانو دنده ده، چې د محصلینو په افکارو کې مثبت بدلون راولي.

نوموړي د یاد سیمینار اهداف د علماء کرامو تر منځ مفاهمه، د نظام پر پالیسي پوهېدل او په پوهنتونونو کې یې عملي کول، له استادانو سره د درسي میتود په برخه کې مرسته کول وبلل.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر وویل، چې د اسلامي ثقافت د استادانو او مبلغینو دنده د محصلینو سالمه فکري او عقیدوي روزنه او فکري مصؤنیت، عباداتو ته د محصلینو متوجه کول، د اعمالو اصلاح، صورت او سیرت د رسول الله صلی الله له سنتو سره برابرول، د محصلینو اخلاقي روزنه، د عصري او دیني علم او علماوو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول دي او له هغوی څخه یې وغوښتل چې په دې برخه کې خپل مسؤلیتونه په سم ډول ترسره کړي.

همدا راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د علماء کرامو د صفاتو او درجو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل: «که موږ غواړو چې خبرې او کار مو اغېزې ولري، نو باید په واقعي ډول د یوه عالم ځانګړتیاوې په ځان کې راولو او عملي یې کړو.»

وروسته د عدلیې سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي صاحب عبدالحکیم شرعي خبرې وکړې ویې ویل، چې د شریعت له پلوه اسلامي امارت په نړۍ کې ساری نه لري او زیاته یې کړه: «د دې نظام تر شاه درېدل د اسلام تر شاه درېدل دي.» همدارنګه نوموړي د افغانستان پرمختګ، ځان بساینه او ځواکمنتیا د افغانانو په یووالي کې وبلله او پر هغې یې ټینګار وکړ.

دغه راز د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه وویل چې په اسلامي ټولنو کې اسلامي ثقافت یو مروج مضمون دی او زموږ په هېواد کې د روسانو له ماتې وروسته تدریسیږي. هغه زیاته کړه چې د اسلامي ثقافت مضمون باید د محصلینو ټولې دیني اړتیاوې پوره کړي، فکري هسته یې جوړه او د اسلام اساسات وروپېژني.

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین وویل چې تر فزیکي جګړې فکري جګړه ډېره خطرناکه ده او له استادانو یې وغوښتل چې د محصلینو سالمه او اساسي فکري روزنه وکړي، تر څو له هر ډول فکري یرغلونو څخه متأثر نه شي.

همدارنګه د ستري محکمې مرستیال شیخ صاحب خیرجان وویل: «کله چې کفار کومه خاوره اشغالوي، نو د هغه ځای استادان، زده کوونکي، نصاب او د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو فضا په خپل لاس کې اخلي او له دې لارې په ټولنه کې خپلې فکري موخې پلي کوي.» نوموړي استادانو او علماء کرامو ته په خطاب کې وویل چې ستاسو مسؤلیت د محصلینو د نظریو او عقیدې جوړول دي او کله چې عقیده جوړه شي، ټول اعمال یې ورسره جوړیږي.

وروسته د کابل ولایت د جهادي مدرسې استاد شیخ الحدیث مولوي صاحب محمد اسماعیل له لوري د نیت ارزښت، د نیت مثبت او منفي اړخ او په نیت کې د اخلاص اهمیت او د شیخ صاحب ضیاء الله حکیمي له لوري د شرعي امر نصب، اطاعت، صلاحیت او حقوق موضوعاتو په اړه خبرې وکړې او د ګډونوالو تر منځ مناقشې او بحثونه وشول.

## سمینار دینی-علمی سه روزه برای استادان ثقافت اسلامی، مبلغان و ملا امامان برگزار گردید

سمینار دینی-علمی سه روزه برای استادان ثقافت اسلامی پوهنتون های امارتی، مبلغان و ملا امامان ریاست دعوت و ارشاد، با اشتراک مقامات عالی رتبه ا.ا.ا در پوهنتون کابل برگزار گردید.

در مراسم افتتاحیه سمینار یاد شده مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء ضمن ستایش از این ابتکار وزارت تحصیلات عالی گفت که در مبارزه مقابل اشغال استادان و محصلان نهاد های تحصیلی کشور نیز نقش داشتند و امروز هم در آبادی کشور با ما یکجا می باشند. وی اضافه نموده بیان داشت: «ما آموزش محصلان خویش را به گونه ی می خواهیم که در کنار طب، انجنیری و سایر مسلک ها، به اساسات و فرائض اسلام نیز آگاه بوده و بالای خویش عملی نمایند.»

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در صحبت های شان اظهارداشتند که مسئولان ا.ا.ا جهت تقویت بیشتر آموزش های عصری؛ کردیت های مضمون ثقافت اسلامی را در پوهنتون های کشور افزایش دادند. بناً این مسئولیت اساتید رشته متذکره می باشد تا در افکار محصلان شان تغییرات مثبت را به میان آورند. وی اضافه نموده گفت که هدف از برگزاری سمینار یاد شده ایجاد فضایی مفاهمه میان علماء کرام، آگاهی از پالیسی های نظام و تطبیق آن در نهاد های تحصیلی و همکاری با استادان در قسمت میتود تدریسی می باشد.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در ادامه گفت که وظیفه استادان و مبلغان مضمون ثقافت اسلامی است تا محصلان شان را تحت آموزش سالم فکری، عقیدوی مصئونیت فکری، متوجه ساختن محصلان به عبادات، اصلاح اعمال، عیار ساختن صورت و سیرت شان مطابق سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم، پرورش اخلاقی محصلان، ایجاد هماهنگی بیشتر میان علماء علوم دینی و عصری می باشد. موصوف از آنان خواست که مسئولیت های شان را در این راستا به صورت درست انجام دهند.

به همین ترتیب سرپرست وزارت تحصیلات عالی با اشاره به اوصاف و درجات علماء کرام گفت: « اگر میخواهید که گفتار و کردار ما تاثیرات خویش را داشته باشد؛ لازم است که به صورت واقعی ویژگی های یک عالم را در خود پرورش داده و عملی نمائیم.» سپس مولوی عبدالحکیم شرعی سرپرست وزارت عدلیه طی سخنانی گفت که از نگاه شریعت، امارت اسلامی در جهان مانند ندارد. موصوف گفت: « پشتیبانی از این نظام؛ پشتیبانی از اسلامی می باشد.»

نامبرده پیشرفت، خودکفایی و نیرومند شدن افعانستان را در اتحاد و اتفاق افغان ها خوانده و روی آن تاکید نمود.

دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی نیز در جریان صحبت های شان گفتند که مضمون ثقافت اسلامی یک مضمون مروج بوده که در کشور ما بعد از شکست روس ها تدریس می گردد.

وی اضافه نموده گفت که مضمون ثقافت اسلامی باید تمام نیازمندی های دینی محصلان را مرفوع ساخته، هسته فکری را ایجاد و با اساسات اسلام آشنایی کامل پیدا کنند. معین علمی وزارت تحصیلات عالی همچنان گفت: « مبارزه فکری دشواتر از نبرد فزیکی می باشد.»

وی از استادان مضمون ثقافت اسلامی نهاد های تحصیلی کشور خواست که در راستای آموزش اساسی و سالم فکری محصلان شان تلاش بیشتر نمایند تا تحت تاثیرهیچ نوع تجاوز فکری قرار نگیرند.

شیخ صاحب خیر جان معاون ستره محکمه از سخنرانان دیگر این سمینار بود وی گفت: « زمانی که کفار سرزمینی را اشغال می نمایند، استادان، محصلان، نصاب و مراکز تعلیمی و تحصیلی شان را در دست می گیرند و از این طریق در جامعه اهداف فکری شان را تطبیق می نمایند.» موصوف در خطاب به استادان گفت که شما مسئولیت دارید تا نظریات و عقاید محصلان خویش را بسازید و زمانی که عقیده شان ساخته شود تمام اعمال شان نیز ساخته خواهد شد.

متعاقباً شیخ الحدیث مولوی محمد اسماعیل استاد مدرسه جهادی ولایت کابل پیرامون موضوعات ارزش نیت، طرف های مثبت و منفی نیت، اهمیت اخلاص در نیت، شیخ ضیاء الله حکیمی استاد ثقافت اسلامی در مورد موضوعات نصب امر شرعی، اطاعت، صلاحیت و حقوق صحبت نمودند.

قابل ذکر است که این سمینار فردا و پس فردا نیز ادامه پیدا کند و در آن علماء کرام روی موضوعات مختلف بحث خواهند نمود.

# Higher Education
## Weekly

شماره ۲٤٦ - سال دهم - اسد - ۱٤۰۲ هـ.ش

## د اسلامي ثقافت استادانو، امامانو او مبلغينو لپاره درې ورځنی ديني – علمي سيمينار پای ته ورسېد

په کابل پوهنتون کې د امارتي تحصيلي بنسټونو د اسلامي ثقافت استادانو، د دعوت او ارشاد امامانو او مبلغينو لپاره درې ورځنی ديني – علمي سيمينار پای ته ورسېد.
ياد سيمينار د ځان، محصلينو او نظام پر وړاندې د استاد او داعي د مسؤليتونو په موخه جوړ شوی و، چې د هېواد ټولو امارتي تحصيلي بنسټونونو څخه ٦٣٧ د اسلامي ثقافت استادانو، د دعوت او ارشاد امامانو او مبلغلينو ګډون پکې کړی و.
د ياد سيمينار په اختتاميه مراسمو کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صاحب د ياد سيمينار موخه د محصلينو سالمه فکري او عقيدوي روزنه ياده کړه او له استادانو يې وغوښتل چې د ياد سيمينار غوښتنې خپلو پوهنتونونو ته ورسوي او مثبت بدلون رامنځته کړي.
نوموړي استادانو په خپلو منځونو کې فکري يووالي ته راوبلل او ويې ويل چې د استادانو درسي مواد بايد له يوبل سره په ټکر کې نه وي او ځوان استادان مکلف دي چې له مشرانو استادانو سره مشورې وکړي او خپل استعدادونه لوړ کړي.
دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزير له استادانو وغوښتل چې په پوهنتونونو کې د نورو ډلو فعاليت ته اجازه ورنکړي او محصلينو ته د دې تشه پرې نږدي چې په نورو ډلو پسې ولاړ شي.
وروسته د ا.ا.ا مرستيال وياند بلال کريمي د رئيس الوزراء الحاج ملا محمد حسن اخند پيغام ولوست.
همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب وويل: «اسلامي ثقافت داسې مضمون دی، چې د محصل دنيا او اخرت ورپورې تړلي دي.» نوموړي له استادانو او مبلغينو وغوښتل چې په خپل ځان کې داسې صفات او اخلاق پيداکړي، چې محصلين ترې متأثره شي او تقليد يې وکړي.
دغه راز د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئيس شيخ شاکرالله وحدت په دې سيمينار کې د ا.ا.ا د مشرانو، استادانو د دعوت او ارشاد امامانو او مبلغينو له ګډون او د تنظيمونکو له خدماتو څخه مننه وکړه.
د سيمينار په پای کې د ننګرهار پوهنتون مختلفو پوهنځيو هغو څلورو تنو محصلينو ته د دستار فضليتونه ور پر سر شول، چې په ياد پوهنتون کې يې د قرانکريم حفظ کړی و.
د يادولو وړ ده چې د سيمينار په درېيمه ورځ هم له اجنډا سره سم د خوست ولايت د علماوو شورا رئيس شيخ الحديث مولوي افضل حسين، د لوړو زده کړو وزارت علمي معين دوکتور لطف الله خيرخواه او د دعوت او ارشاد عمومي رئيس شيخ محمد هاشم حقاني په اړوندو موضوعاتو خبرې وکړې او د ګډونوالو پوښتنو ته يې ځوابونه وويل.

## سمینار دینی-علمی سه روزه که برای استادان ثقافت اسلامی مبلغان و ملا امامان برگزار گردیده بود، پایان یافت

سمینار دینی-علمی سه روزه که برای استادان ثقافت اسلامی پوهنتون های امارتی، مبلغان و ملا امامان ریاست دعوت و ارشاد در پوهنتون کابل برگزار گردیده بود، خاتمه یافت.
این سمینار که به هدف برجسته سازی مسئولیت های استاد و داعی در مقابل خویش، محصل و نظام برگزار گردیده بود، ٦٣٧ تن از استادان ثقافت اسلامی پوهنتون های امارتی، ملا امامان و مبلغان دعوت و ارشاد اشتراک نموده بودند. در مراسم پایانی سمینار متذکره شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب، هدف از برگزاری این سمینار را آموزش سالم فکری و عقیدوی محصلان عنوان نموده، از اساتید شامل در سمینار خواست که موضوعات مطرح شده را با مسئولان و سایر استادان پوهنتون های شان شریک سازند.
وی استادان را به وحت فکری دعوت نموده گفت که مواد درسی استادان نباید با هم دیگر در تضاد و تقابل باشد. موصوف همچنان گفت که استادان جوان مکلف اند تا در امور تدریسی با استادان که سالیان متمادی تدریس نموده اند، مشوره های لازم نمایند.
سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان از استادان نهاد های تحصیلی کشور خواست که اجازه نه دهند گروه ها و افراد مغرض در پوهنتون های شان فعالیت نمایند و محصلان شان را به سوی خود جلب کنند.
سپس بلال کریمی معاون سخنگوی ا.ا.ا پیام الحاج ملا محمد حسن اخوند رئیس الوزراء ا.ا.ا را به خوانش گرفت. همچنان در سمینار متذکره مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی صحبت نموده گفت: « ثقافت اسلامی مضمون است که دنیا و آخرت محصل، وابسته به آن می باشد ».
نامبرده از استادان و مبلغان خواست تا در وجود خود صفات و اخلاق را پرورش دهند که محصلان شان از آن متاثر و پیروی نمایند. به همین ترتیب شیخ شاکر الله وحدت رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی از اشتراک مقامات عالی رتبه ا.ا.ا، استادان ثقافت اسلامی، مبلغان دعوت و ارشاد و ملا امامان و همچنان از تنظیم کنندگان سمینار سپاسگزاری نمود. هکذا در حاشیه این سمینار دستار فضیلت بر سر چهار تن از محصلان پوهنځی های مختلف پوهنتون ننگرهار گذاشته شد، که قرآن عظیم الشان را در پوهنتون متذکره حفظ نموده بودند. قابل ذکر است که در روز سوم این سمینار مطابق آجندا دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی، شیخ الحدیث مولوی افضل حسین رئیس شورای علمای ولایت خوست و شیخ محمد هاشم حقانی رئیس عمومی دعوت و ارشاد، پیرامون موضوعات مرتبط به سمینار صحبت نموده، به سوالات اشتراک کنندگان پاسخ ارایه نمودند.

## له کابل پولي تخنيک پوهنتون څخه ٥٥٤ تنه انجنيران فارغ شول

د کابل پولي تخنيک پوهنتون پنځوسمې دورې محصلينو په فراغت غونډه کې د ا.ا.ا د رياست الوزراء اداري مرستيال، د لوړو زده کړو سرپرست وزير او مشرتابه پلاوي، د لوړو زده کړو وزارت مرکزي ادارو يو شمېر رئيسانو، د کابل پولي تخنيک پوهنتون مشرتابه پلاوي، استادانو، محصلينو او د فارغ شويو محصلينو کورنيو ګډون کړی و. په يادو مراسمو کې د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي فارغ شويو محصلينو ته په خطاب کې وويل: «دا ستاسو ايماني او وجداني مسؤليت دی چې د خپل وران او ځورېدلي هېواد د جوړولو لپاره صادقانه کار وکړئ.» نوموړي د ديني ارزښتونو په پام کې نيولو سره د عصري علومو پر زده کړې ټينګار وکړ او محصلين يې نېکمرغه وبلل چې خپلې دې موخې ته ورسېدل.
وروسته د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صاحب له فارغ شويو انجنيرانو سره ژمنه وکړه چې د کار زمينه به ورته مساعدوي او ويې ويل چې رياست الوزراء ۲۵۰۰ نوي بستونه ورته منظور کړي، چې د ازادی سيالۍ له لارې به تاسو او ستاسو غونډې نوي فارغين پکې جذب شي.»
نوموړي زياته کړه: «بهر ته د تلو هڅه مه کوئ، د دښمنانو په تبليغاتو مه غولېږئ، هلته مو قدر نشته، ستاسو زده کړو ته د زده کړو په سترګه نه ګوري او ستاسو له شان سره سمې دندې نه درکوي.»
د لوړو زده کړو سرپرست يادو محصلينو ته وويل چې په خپل مسلک کې کار وکړي او د خپل ځان، کورنۍ او ټولنې لپاره د خدمت جوګه شي.
همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت علمي معين دوکتور لطف الله خيرخواه له محصلينو وغوښتل چې په رسمي زده کړو بسنه ونکړي، له کتاب سره همېشنۍ ملګرتيا وساتي، ځکه علم نهايت نه لري.
دغه راز د لوړو زده کړو وزارت علمي معين وويل هغه محصلين خپلې موخې ته رسېدلي چې له فراغت وروسته په خپل ځان کې مثبت بدلون ويني او د علميت احساس کوي او سپارښتنه يې ورته وکړه چې له تکبر او غرور څخه ځان وساتي.
همدا راز د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو معين مفتي محمد طاهر احمد عصري زده کړې د ټولنې او امت جدي اړتيا وبللې او ويې ويل چې موږ بايد په عصري زده کړو کې هم ځان له نړۍ سره سيال کړو.
وروسته د کابل پولي تخنيک پوهنتون رئيس پوهنوال دوکتور عبدالرشيد اقبال فارغ شويو محصلينو ته د سپارښتنو تر څنګ، د هغوی کورنيو او استادانو ته مبارکي وويله او په ټولو ديني او دنياوي چارو کې يې د بريا هيله ورته وړ وکړه.
د کابل پولي تخنيک پوهنتون د لېسانس، ماسټرۍ او دوکتورا په برخو کې ۸ پوهنځي لري، چې هر کال په سلګونو انجنيران ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کوي.

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی، در آزمون سالانه وزارت احیا و انکشاف دهات اشتراک نمود

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات عالی، در محفل آزمون سالانه ریاست دعوت و ارشاد وزارت احیا و انکشاف دهات شرکت نمود.
در محفل یاد شده شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات عالی، مفتی سید احمد مستقیم معین بازسازی وزارت احیا و انکشاف دهات، شرف الدین مسلم معین پلان و پالیسی وزارت یاد شده و شماری از کارمندان آن وزارت شرکت نموده بودند.
در آغاز سرپرست وزارت تحصیلات عالی در خطاب به کارمندان آن وزارت گفت، این نظام، نظام مشترک همه ما و شما بوده و ما همه در این کشتی یک جا می باشیم. بناً این کشتی را در همکاری با یک دیگر به ساحل مقصود خواهیم رساند. سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان از کارمندان وزارت احیا و انکشاف دهات خواست تا در امور کاری شان غفلت و بی پروایی نکنند و با مراجعین برخورد نیک داشته باشند.
سرپرست وزارت تحصیلات عالی امارت اسلامی افغانستان را با حکومت الهدایه؛ حکومتی که برای مسئولان آن مادیات مطرح نبوده بلکه بزرگترین هدف شان خدمت به مردم و اقامه دین می باشد، تشبیه کرد.
سپس شرف الدین مسلم معین پلان و پالیسی وزارت احیا و انکشاف دهات از تدویر محفل یاد شده ابراز خرسندی نموده اضافه نموده گفت که امر به معروف و نهی از منکر وظیفه تمامی پیغمبران بوده که امروز این مسئولیت به دوش وزارت محترم امربالمعروف و نهی عن المنکر می باشد.
در پایان به آن عده از کارمندان که در آزمون سالانه یاد شده نمرات بلند اخذ نموده بودند، از سوی ریاست دعوت و ارشاد آن وزارت تحسین نامه ها توزیع گردید.

### سرپرست وزارت تحصیلات عالی با اساتید ثقافت اسلامی، امامان و مبلغان زون های مرکز، شرق و جنوب شرق کشور دیدار نمود

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در حاشیه سمینار دینی -علمی برای استادان ثقافت اسلامی ، امامان و مبلغان ریاست ارشاد و دعوت طی نشست ویژه با اساتید ثقافت اسلامی، امامان و مبلغان زون های مرکز، شرق و جنوب شرق کشور دیدار نمود. شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات عالی در حاشیه سمینار دینی -علمی برای استادان ثقافت اسلامی ، امامان و مبلغان ریاست ارشاد و دعوت نهاد های تحصیلی امارتی کشور با اساتید ثقافت اسلامی، امامان و مبلغان زون های مرکز، شرق و جنوب شرق کشور طی نشست ویژه دیدار نمود. شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات طی صحبت های بیان داشت که هدف از این نشست تعارف از نزدیک با استادان است، تا مشکلات، سابقه تدریس و تجربیات شان را از زبان خودشان استماع نمایم.

**هفته نامه تحصیلات عالی**
صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: قاری محمد سلیمان شریفی

هیأت تحریر: سید محمد محمودي، محمد اسلم اسلم و اختر محمد عبیر
خبرنگاران: کاوون رمز، محب الله امیری و احمد جاوید حکمت
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
جمع آوری مواد: محمد اسحاق معصومی

دیزاینر: هادی قدیری
مصحیح: الفت الله حلیم
تیراژ: ۱۰۰ نسخه
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰٦۹٦
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info@mohe.gov.af

# پیشنه تاریخی و معرفی وزارت تحصیلات عالی:

## ادامه معرفی پوهنتون طبی کابل ( ابوعلی ابن سینا)




در حال حاضر پوهنتون طبی کابل دارای چهار معاونیت و شش پوهنځی می باشد:

۱. معاونیت علمی،
۲. معاونیت امور محصلان
۳. معاونیت موسسات امور صحی
٤. و معاونیت مالی و اداری.

**پوهنځی های شش گانه این پوهنتون شامل:**

۱. پوهنځی طب معالجوی که دارای دوازده دیپارتمنت.
۲. پوهنځی صحت عامه که دارای ده دیپارتمنت.
۳. پوهنځی ستوماتولوژی که دارای دوازده دیپارتمنت.
٤. پوهنځی نرسنگ که دارای یازده دیپارتمنت.
٥. پوهنځی متمم علوم صحی که دارای ده دیپارتمنت.
٦. و پوهنځی قابلگی که دارای پنج دیپارتمنت می باشد.

پوهنتون علوم طبی کابل ابوعلی ابن سینا دارای ریاست انکشاف تحصیلات طبی(EDC)، کمیونتی کالج تکنالوژی و ترمیم تجهیزات طبی، سه شفاخانه و سه کلینیک تدریسی، مرکز تحقیقات علمی و نوآوری، مرکز فناوری اطلاعات و ارتباطات(ICT Center)، استدیوی ثبت لکچرها، لابراتوارها، کامپیوترلب ها، تالارها و اتاق های کنفرانس، کفتریا، صنف های درسی مجهز با تجهیزات تکنالوژی، کتابخانه، واحد تضمین کیفیت و اعتباردهی، فصل نامه علمی تحقیقی(افغان طبی مجله)، Online Afghan Medical Journal، (۲۲) کمیته مختلف علمی، اداری و صحی(در سطح پوهنتون) می‌باشد.

درضمن، این پوهنتون دارای دو مرجع تصمیم‌گیرنده در سطح پوهنتون بوده که عبارت از شورای علمی و هیأت رهبری می‌باشد. شورای علمی، بزرگ‌ترین مرجع تصمیم‌گیری در سطح پوهنتون است. برعلاوه، پوهنتون علوم طبی کابل ابوعلی ابن سینا با (۹) پوهنتون و نهاد علمی منطقه و جهان و با (۲٤) پوهنتون و موسسات علمی داخلی تفاهم و همکاری های اکادمیک دارد.

این پوهنتون دارای برنامه های تحصیلی MD(طب)، DMD(ستوماتولوژی)؛ صحت عامه(لیسانس)، نرسنگ(لیسانس)، قابلگی(لیسانس)، تکنالوژی طبی(لیسانس)؛ برنامه ماستری صحت عامه، برنامه اکمال تخصص و برنامه دوساله بوده کمیونتی کالج می باشد.

سقف تشکیلاتی این پوهنتون در سال ۱٤۰۲ به تعداد ( ۲۹۸) تن از استاد که ( ۲۲۳) آن ذکور و (۷٥) تن آن را قشر اناث تشکیل میدهد، تعداد محصلان آن (۳٤۸۷) تن در دوره های مختلف (۱۷۱۸) تن پسر و تعداد (۱۷٦۹) تن دختران می باشند.

قابل یاد آوریست که در بخش اداری و خدماتی در این پوهنتون به تعداد ( ۷۹۸) کارمندان اداری و به تعداد (۳۷۱) تن کارکنان خدماتی مصدر خدمت هستند.

**معرفی شفاخانه های کادری پوهنتون طبی کابل ابو علی ابن سینا**

# د تحصیلي بنسټونو د علمي کادري بستونو اعلانونه

**د کابل پوهنتون علمي کادري بستونو خبرتیا!**

کابل پوهنتون لومړي ځل لپاره لاندې ځانګو کې د ۱٤٤٥ هـ.ق کال لپاره دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادرونو ته اړتیا لري:

د ریاضیات پوهنځی :

تطبیقي ریاضیاتو ډیپارټمنټ (۱) بست.

د فزیک پوهنځی :

نظري او عمومي فزیک ډیپارټمنټ (۱) بست.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٥/۱/٦ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۱/۲۲هـ.ق پورې یادو علمي کادري بستونو ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا!**

کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د دویم ځل لپاره لاندې ځانګو کې د ۱٤٤٥ هـ.ق کال لپاره دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادرونو ته اړتیا لري:

د طبیعي علومو پوهنځی

چاپیریال ساتنې ډیپارټمنټ (۱) بست، نارینه وو لپاره.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٥/۱/٦ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۱/۱٥هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د هرات پوهنتون علمي کادري بستونو خبرتیا!**

هرات پوهنتون لومړي ځل لپاره لاندې ځانګو کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادرونو ته اړتیا لري:

د بشري علوم او ادبیاتو پوهنځی

آلماني ژبې ډیپارټمنټ (۲) بسته.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٥/۱/۷ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۲/۷هـ.ق پورې یادو علمي کادري بستونو ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د ننګرهار پوهنتون علمي کادري بستونو خبرتیا!**

ننګرهار پوهنتون د بیا ځل لپاره لاندې ځانګه کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا ، ماسټرۍ اویا لېسانس په کچه علمي کادرونو ته اړتیا لري:

د اقتصاد پوهنځی :

د اداره او منجمنت ډیپارټمنټ (۲) بسته.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٥/۱/۷ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۱/۲۰هـ.ق پورې یادو علمي کادري بستونو ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د بغلان پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا!**

بغلان پوهنتون پنځم ځل لپاره لاندې ځانګه کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا ، ماسټرۍ او لېسانس په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:

د ښوونې او روزنې پوهنځی

د فزیک ډیپارټمنټ (۱) بست.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٥/۱/۷ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۱/۲۰هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا!**

کابل پولي تخنیک پوهنتون لومړي ځل لپاره لاندې ځانګو کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:

د ساختماني پوهنځی

صنعتي او مدني ساختمانونو ډیپارټمنټ (۱) بست.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٥/۱/۷ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۲/۷هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**اعلان دعوت به داوطلبی**

عنوان: پروژه تهیه و تدارک قرطاسیه باب مورد نیاز کلستر های بازنگری ، انکشاف نصاب تحصیلی و ورکشاپ های معرفی رهنمود ها و معیار های بازنگری و انکشاف نصاب تحصیلی

شماره دعوت به داوطلبی : MOHE/1402/NCB/G--029

وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک قرطاسیه باب مورد نیاز کلستر های بازنگری ، انکشاف نصاب تحصیلی و ورکشاپ های معرفی رهنمود ها و معیار های بازنگری و انکشاف نصاب تحصیلی اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات، وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت {۱۰:۰۰{ قبل از ظهر روز {سه شنبه} تاریخ {۱٤۰۲/٥/۲٤} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به شکل بانک گرنتی ویا پول نقد: مبلغ (۳۰,۰۰۰) سی هزار افغانی ارایه گردد.

جلسه آفر گشایی به روز {سه شنبه} تاریخ {۱٤۰۲/۰٥/۲٤} ساعت {۱۰:۰۰ قبل از ظهر}در{صالون آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار، ناحیه سوم،کابل افغانستان} تدویر می گردد.

شماره تماس:۰۲۰۲٥۱٤۰۷۸

آدرس الکترونیکی : abdmatin800@gmail.com

# سرلیکنه

## د دیني-علمي سمینار موخې

په کابل پوهنتون کې د امارتي پوهنتونونو د اسلامي ثقافت استادانو، د دعوت او ارشاد امامانو او مبلغینو لپاره درې ورځنی دیني – علمي سیمینار د ۱.۱.۱ د مشرانو مسؤلینو په ګډون سره ترسره شو.

د یاد سمینار موخې؛ د ځان په اړه د استاد او دعوتګر مسؤلیتونه، د محصلانو په اړه د استاد او دعوتګر مسؤلیتونه او د اسلامي امارت د پالیسۍ په رڼا کې د خپلو مسئولیتونو ادا کول وو، چې د جیدو علماوو له لوري په نوموړو موضوعاتو بحث او مذاکره وشوه.

د یاد سمینار اصلي موضوعات په پوهنتونونو کې د اسلامي ثقافت مضمون د ارزښت روښانه کول و، چې ترڅنګ یې؛ د اسلام پر سیاسي نظام؛ هغه نظام چې تر چتر لاندې یې د اسلام نور نظامونه عملي کېدلی شي او د نشتون په صورت کې د اسلام د نورو برخو قائمېدل ناممکن بریښي هم بحث او مذاکره وشوه. په دغه سمینار کې د اسلامي امارت پر مسؤلیتونو او پر امر بل المعروف او نهی عن المنکر هم بحث وشو.

امر بل المعروف او نهی عن المنکر د اسلامی نظام له سترو وجیبو او دندو څخه دی، چې پر مټ یې په پوهنتون، علمي مراکز او ټولنه کې اصلاح او سکون راځي. دغه راز دا ډول سمینارونه علم ته پراختیا ورکوي، په علمي ډګر کې نوښتونه رامنځته کوي او د بحثونو په پایله کې شکونه له منځه ځي.


د لوړو زده کړو وزارت د مسؤلینو په وینا؛ د دا ډول سمینارونو یوه موخه د استادانو او علماء کرامو تر منځ مذاکرو او مناقشو ته لار هوارول او پیل دی او همداراز د اسلامي ثقافت استادانو د دعوت او ارشاد مبلغینو له لوري د امر بل المعروف او نهی عن المنکر مسؤلیت روښانه کول دي.

د سمینار په پای کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب له ټولو هغو استادانو او علماء کرامو د زړه له کومي مننه وکړه چې په دغه سمینار کې یې په ډېر اخلاص ګډون وکړ. دغه راز په ولایتونو او مرکز کې یې د نورو دا ډول سمینارونو د دایرولو خبر هم ورکړ.

په درنښت

اداره

# نبوي سیرت صلی الله علیه وسلم




## د مهربان نیکه تر سیوري لاندې

سپین ږیری عبدالمطلب خپل یتیم لمسی مکې ته راووست، زړه یې د لمسي له مینې او محبت نه ډک، ډېر وربانډې زهیر و، ځکه هغه له نوي داسې غم سره مخ شوی و چې پخواني غمونه یې ټول را تازه کول. او همدا وجه وه چې عبدالمطلب لدې لمسي سره دومره مهرباني او نرمي کوله چې له بل هیڅ یوه اولاد سره یې نه وه کړې. هغه یې نه پرېښوده چې د بې کسۍ او تنهایي احساس وکړي، له خپلو زامنو نه یې هغه ته توجه ډېره وه. ابن هشام وایي: د کعبې تر سیوري لاندې به عبدالمطلب ته ځای برابرېده، زامن به یې شاوخوا کیناستل ترڅو هغه به راغی، هیڅوک به هم ده ته د احترام او تقدیر له امله د ده په ځای نه کیناستل، خو رسول الله (صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم) به چې لا تراوسه ځوان شوی هم نه و راته او د خپل بابا په ځای به کیناست، ترونو به یې منع کاوه، اجازه به یې نه ورکوله چې هلته کیني، خو عبدالمطلب به چې کله ولیدل نو ورته ویل به یې: ز ما زوی پرېږدئ قسم په خدای (جل جلاله) چې د لوړ شان خاوند دی. کله به محمد ( صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم) له خپل بابا سره ناست و، بابا به یې ورته په سر او شاد مینې لاس راتیراوه، او په کړو وړو ( نقل او حرکت) به یې ډېر خوشالیده.

خو کله چې د حضرت محمد ( صلی الله علیه و آله وصحبه وسلم) د عمر آته کاله، دوې میاشتې او لس ورځې پوره شوې، مهربان بابا یې (عبدالمطلب)) هم په مکه کې وفات شو. عبدالمطلب له خپل مرګ نه مخکې د خپل خواړه لمسي کفالت ابو طالب ته چې د رسول الله (صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم) د پلار ( عبدالله) سکنی ورور کیده سپارلی و.

د شفیق تره په کفالت کې

ابو طالب د خپل وراره حقوق کامل او پوره ادا کړل، هغه یې له خپلو زامنو سره یوځای کړ، بلکه له هغوی نه یې زیات ځان ته رانژدې کړ، ډېر شفقت او محبت یې ورسره درلود. تر څلوېښتو کالو زیاتو موده یې خوا ته ولاړ و، هیڅ ډول مرسته او همکاري یې نه ورنه سپموله، د ده په سر به یې دوستې او دښمني کوله، د دې خبرې څه تفصیلات به په راتلونکو پاڼو کې راشي.

د محمد (صلی الله علیه و آله و صحبه وسلم) له رویه باران غوښتل کیږي

ابن عساکر له جلهمه بن عرفطه نه روایت کوي چې وایې: زه مکې ته راغلم، دغه وخت خلک له وچ کالۍ او قحطۍ سره لاس او ګریوان وو، قریشو ابوطالب ته وویل: وادي او سیمه وچکالۍ وهلې، خلک قحطۍ ځپلي، راځه د باران دعا وکړه، نو ابوطالب له یوه داسې هلک سره راووت چې مخ یې لکه د لمر په شان ځلیده، تا به ویل همدا اوس له لمر نه توري وریځې ایسته شوې او رون، روښانه لمر ورنه راښکاره شویدی. د هلک شا و خوا نور هلکان هم وو، ابوطالب راونیو او مبارکه شا یې د کعبې شریفې له دیوال سره ولګوله، هلک یې ګوته نیولې وه، د باران د عا یې وکړه، پدې وخت کې په آسمان کې د وریځې یوه ټوټه هم نه لیدل کیده، خو ورو، ورو له یوې او بلې خوا نه وریځې را پیدا شوې، سره ټینګې شوې او داسې باران وشو چې سیمه اوبو په سر واخیسته، ټول وطن خړوب او شاداب شو. ابو طالب همدې پیښې ته په اشارې سره د رسول الله (صلی الله علیه و آله وصحبه و سلم) داسې ستاینه کوي:

وابیض یستسقی الغمام بوجهه
ثمال الیتامی عصمة للأرامل

[هغه سپین او ښکلی دی، د ده له رویه د باران سوال کیږي، هغه د یتیمانو د پناه ځای او د کونډو محافظ او ساتونکی دی.]

**بحیرا راهب ...**